شخړو ددوي په سترملك کي سر رااوچت کړ . په محکومو اولسونوکي دآزادي تحريکونه پيل شول اوهغه چاچي ګومان يې کاوه چې دروس مقابله مشکله ده او دروس نه دوباره خپلواکي ممکنه نده . هغوي هم مطمئن شول اودافغانستان زړورو اومؤمنو مجاهدينو نه ، دجهاد نه دالهام په اخيستلو سره هغوي دآزادي لپاره رااوچت شول اودادي په افغانستان کي دروسي پوځونو دشکست اوددي هيوادنه ددوي دوتلونه لادري کاله مکمل شوي نه دي، چې دروس دسترې امپراتورۍ خاتمه اعلان شوه . او ورووستي رئيس جمهوريې استعفا ته اړشو اويه پنځلسومستقلو ملکونو باندي تجزيه شوه ، دهمدارازپېښوپه هکله قرآن عظيم الشان څه ښه فرمايي " اولم تكونوا اقسمتم من قبل مالكم من زوال - وسكنتم في مساكن الذين ظلموا أنفسهم وتبين لكم كيف فعلنا بهم وضربنالكم الامثال - وقدمكروا مكرهم وعندالله مكرهم وإن كان مكرهم لتزول منه الجبال " .

اياتاسو نه وې چې ويل به مو، قسمونه به موخوړل چې تاسوته په هيڅ صورت کي زوال نشته ، هيڅ زوال نه وينې . " زوال نه منونکي انقلاب "ا په داسې حال کي چې تاسو پخپله هلته له هغوظالمانو نه په پاتې شويو ځايونو کي ځاي پرځاي شوې چې دتاسونه دمخه تيرشوي وو .

دظلم په وجه تباه شوي وو، او دهغوي هرڅه تاسوته په ميراث پاتې شوي وو، دهغوي له ظلم نه په ميراث پاتې کنډوالي چې نن تاسو په کي ميشته ياست داګوري (وسكنتم في مساكن الذين ظلموا أنفسهم) همداسې وشول .

اوتاسوته داخبره څرګنده شوه موږ له هغوي سره څه وکړل څنګه موتباه کړل . دداسې پيښو ډيرمثالونه موتاسوته بيان کړي يقينا چې دوي خپل مکروکړ .له خپل مکراوتدبيرنه يې کاراواخيست ، خو ددوي مکرله الله سره دي، دمکرواګي دالله په اختيار کي دي . که څه هم ددوي مکرهومره وي چې غرونه راونړوي .

که روسانو زموږدځلوېښت زرولادرکوسانو برخليك وټاکه، نوبياموږهم دي ته تياريوچې دهغوي د بنديانو سرنوشت وټاکو

که له غتوالي اوعمق اوزوروالي له ناحيې نه هومره خطرناك وي چې سترسترغرونه راوغورځوي، خوواګي اوانجام يې دالله جل شانه په اختيار کي دي .

پرون دجدي شپږمه وه اوددي په خاطر چې دجمعې ورځ وه موږ داستره غونډه دشنبې ورځې لپاره وځنډوله په همدغې ورځې روسي پوځونو زموږ په ملك باندي تيري کړي و تولي دنيا دسرې امپراتورۍ دزوال جشنونه لمانځل . دنړۍ د مختلفو هيوادونو مشرانويېل ته ددې سترې پېښې مبارکي ويله او تلويزيونو له يوې خواګورباچوف په داسې حال کي ښودلو چې خپل استعفا ليك لولي اودتأثر اوغم علائم يې په څېره کي څرګندوو .

خوله بلې خوا دسره بيرغ دراکوزيدو صحنه ښيي . په رښتيا چې الله (جل جلاله) دځمکي اواسمانونو مالك دي .

په رښتياچې په کائناتوکي يواځې دالله اراده حاکمه ده ، اوهرڅه دده په اراده ترسره کيږي . په رښتيا چې الله ذوانتقام دي اوله ظالمانو نه انتقام اخلي، په رښتياچې دظلم انجام وخيم دي . دظلم ملتي به نسکوريږي . دادالله سنت دي ، دادهغه فيصله ده حقيقتا چې الله په خپلو وعدو کي رښتيني دي (فلاتحسبن الله مخلف وعده رسله ان الله عزيز ذوانتقام) په الله باندي داګومان مه کوئ چې دپېغمبرانو سره دخپلو وعدو نه خلاف وکړي (فلاتحسبن الله مخلف وعده ...

اوکفر انجام وخيم دي (ولهم عذاب مهين) وګوري چې له څه رسوائيي سره مخامخ دي . ماچې پرون دغربي ملکونو دمشرانو طعن آميزه پيغامونه اوريدل چې هغوي دروس دزوال په هکله کومې څرګندونې کولې نو دلس کاله مخکي حالت مي راپه يادشو .

چې امريکا څومره ترې ويريده اودروس دمقابلې توان او ځواك يې په ځان کي نه ليده اونن دهغې پرزوال خوشحاله ده اودطعن نه ډکې څرګندونې کوي .

ورونو ! خلك ګومان کوي چې دروسيې دزوال نه وروسته دادي يواځې امريکا په اصطلاح دنړيوال ماتې نه خوړونکي ځواك په حيث راميدان ته شوي ده . خوزه يقين لرم چې ډيرژربه امريکاهم دروس په شان انجام سره مخامخ کيږي ، روس پنځلس ټوټې شو خوامريکابه په دوپنځوسو ټوټو تجزيه کيږي

ان شاءالله دحزب صابراوپرخداي (ج) مېن مجاهدين به تل دخپل مظلوم ملت په خواکي وي.

دااجتماع دي شاهده وي . معلومه نده چې موږبه بياهم په پاکستان کي دلکوټو کسانو په ګډون دومره ستره اجتماع ولرو که نه ، تاسوټول دايه يادولري ، دادځاي دي شاهدوي ، چې امريکا به ډير ژر دروس له انجام سره مخامخ کيږي . هغه به هم همدغسي ټوټې ټوټې کيږي .

ورونو ! حقيقت دادي چې دامريکا دزوال عوامل تر روسانو هم ډير عميق اوژور دي .

ورونو ! شايد دحکيم خداي (جل شانه) داراده وه چې لومړي دافغان جهاد په نتيجه کي هغه مادي ځواك ختم کړي چې ټوله دنيا ترې ويريدله . هغه وحشي ځواك چې پرافغانستان باندي دخپل دخوښې نظام تحميلاوه ، او دخپلې بقا لپاره يې زموږ پرملك تيري وکړ . يونيم مليون افغانان يې په شهادت ورسول .

پنځه مليونه يې مهاجرت ته اړکړل .

زموږ ټول ملك يې وران کړ. شايد الله جل شانه غوښتل چې لومړي دغه ځواك د افغانانو په واسطه ختم کړي، دکفر اصلي ځواك ، اوبيا دکفردډي اصلي ځواك دختمولو اونسکورولونه پس دکابل رژيم دمجاهدينو په لاس راوپرځوي ، مجاهدينو ته پداسې حال کي د اسلامي حکومت دجوړولو موقع په لاس ورکړي چې پدي سيمه کي يې هيڅوك دمخنيوي ځواك ونلري . شايد حکيم خداي جل شانه چې په هرکارکي يې مصلحت اوحکمت مضمردي دهمدي لپاره دکابل رژيم دنسکورولو کار ځنډولي وي ، ځکه چې الله جل شانه دمکي فتحه ترهغه وخته پورې يې وځنډوله چې په عربو کې يې ټول مخالف قوتونه ختم کړل اويه ټول حجازکې داسې ځواك پاتې نه و، چې دمسلمانانو دمقابلې توان ولري، بيايې مکه مکرمه له جګړې اودوينو تويېدو نه پرته په ډيرې آسانۍ سره ، پرته له دې نه چې يو معمولي شانته مقاومت يې په مقابل کي وشي دمسلمانانو په لاس فتحه کړه .

زماهيله دادي چې کابل به هم انشاء الله دمکې مکرمې په شان فتحه کيږي ، دالله جل شانه سنت دادي چې دوروستي فتحې فيصله دمسلمانانو په ګټه هلته کوي چې لومړي دکفراصلي ځواکونه ختم شي . صادق اوکاذب مؤمنان دابتلاګانو په دوران کي له نورونه متمايز کړي .
منافقين بېښند کړي اوټولو ته يې رسوا

کړي . ددي نه وروسته الله جل شانه دوروستي فتحې فيصله کوي .

ورونو ! دروسي پوځونو له وتلونه وروسته پدي دريوکلونو کي الله جل شانه په مجاهدينو داسې ابتلاآت راوستل چې دهغوي په نتيجه کي ډيري پټې منافقې څيرې څرګندې شوې . ځوك دامريکا په غيږکې ولويدل اودامريکايانو دلاس اله شول . همغه څه يې کول چې پيټرتامسن ورته ويل . هغه به راغونډول ، هغه به هدايات ورکول ، شوراګانې يې ورته جوړولې اوددوي په مخکې به يې دجهاد اومجاهدينوپر خلاف دامريکا اوامريکايانو دخوښې خبرې کولې . دلته به دمجاهدينو سره کيناستل ، موافقات به يې وکړل . موافقت نامې به يې امضاء کړې . چې دجلسي نه به ووتل ، دامريکا سفيراوقونسل به ترغونډونيول اوخپلې غلطي ته به يې متوجه کړل اويه همغه ساعت به يې دخپل تعهدپرخلاف بيان ورکاوه پر موافقتنامي به ددوي دامضاء رنګ لاوچ شوي نه وچې هغه به يې ردوله .

همدارازالله جل شانه هغه څېرې خلکوته رسوا کړې چې دځه ترلاسه کولو په خاطر کله په دي ګاونډي ملك او کله په هغه بل څرخ شوي اويه غولونکو شعارونو باندي يې دخلکو ددوکه کولو هڅه کړې کله يې دوحدت غږ اوچت کړی او کله دتحريك اونهضت ! اوکله دجهاد اومقاومت نه ددفاع چيغې . خو الله جل شانه ډيرژررسوا کړي اوماهيت اوهدف يې خلکوته څرګندشوي. بايي ډيرديو په اشاره بېيله پله جوړه کړي اوبيا ددې اوهغه ملك داهدافو ډيوره کيدو وسيله ګرځېدلي . الله جل شانه داټولې څېري زموږ ولس اومجاهدينوته رسوا کړې .

ورونو ! ماپکې موده کي داسې کسان هم وليدل چې مخکي ځيني ناپوهوافغانانو ددوي په نسبت دتقدس اعتقاد لاره اوددوي دموټرونو ټايرونه يې ښکلول ، ولي هغوي ديوه بهرني ملك دجنرال لاس مچې کړي . له هغوي نه يې داطمعه اوتوقع وه چې هغوي يې اقتدار ته ورسوي .

ورونو ! ددي جهادپه دوران کي صالح اوفاجر، مخلص اومنافق، پاك اوناپاك ، طيب اوخبيث سره متمايز شول . زما توصيه هم زمامؤمن اومجاهدملت ته داده چې پام کوي، چې په تشوشعارونو دوکه نه شي ، قرآن پاك همداسې فرمايي " ومن الناس من يقول أمنا بالله وباليوم الاخروماهم بمؤمنين " .

دهرچاعمل وګوري . په جهادکي دهغه دبرخې اخيستلو په اساس دهغه په باب قضاوت اوفيصله وکړي ، دجهاد په دوران کي دهغه دتصرفاتو په باب داخلاص او ټګې په باب يې قضاوت وکړي . چاچې په امانتونو کي خيانت کړی . دجهاد له امکاناتو نه يې غلطه استفاده کړې، پدي اوهغه ملك باندي څرخ شوي . اودنورو په اشاره خوځېدلي ، دپرديو دخوښې لپاره دهغوي له حکمونو سره سم روان شوي . نوروچې څه ورته ويلي هغه يې ويلي . دسازشونو اوتوطيو په وړاندې ساکت او چوپ پاتې شوي . هغه نور داعتماد وړنه دي، هغه نورددي زړور اوقهرمان قوم دقيادت او رهبري وړاوښايسته نه دي . که تاسو ټول دجهاد ريښتيني اراده لري " ان كنتم خرجتم جهادافي سبيله وابتغاء مرضات " که دالله په لاره (دجهادپه لار) وتلي ياست اوهجرت مو دخداي لپاره وي تويام کوي چې ددغسي څيرويه ماحول کي راغونډ نشي اودېوې شيبي لپاره هم ددې لپاره تيارنه شي چې دافغان اولس قيادت اورهبري ددغسي ضعيف النفسه اوبې ايمانه خلکويه لاس کي ولويږي .

(دېرخوالو پرله پسې انقلابي شعارونه)

ورونو ! دالله جل شانه نه سپاسګذاريم . الحمدلله چې دحزب اسلامي زړورواومؤمن مجاهدين ددې اسلامي جهاد داصالت نه ددفاع په خاطر دټولو توطئو په وړاندې په جرئت اويه ميړانه ودريدلي . فشارونو ته ندي تسليم شوي اودجهاد دستونځو اوکړاوونونه په ډك مسيرکي هغوي خپل حريت اواستقلال ساتلي، داجهاد دهمدې حزب دمؤمنو مجاهدينو په لاس پيل شوي اودهمدې حزب دقربانيو په نتيجه کي دي ... موږته راوګرځي ، دمختلفو ملکونو ... او ددې وطن نه ماته راغلي وه ولي ماورته ...
(دېرخوالو تکبيرونه)

انشاء الله ددي حزب صابراوپه خداي مېن مجاهدين به تل دخپل مظلوم ملت په خواکي وي . دصالحو مجاهدينو ملاتړبه کوي اوهغوي ته به دوروري لاس ورواوږدوي اوترهغه پورې به خپل جهادته ادامه ورکوي چې په افغانستان کې دمجاهدينو په لاس اسلامي حکومت قائم شي . دټولو توطئو په وړاندې به په راتلونکي کي هم انشاء الله حزب دمقابلې لپاره تياروي ، که دادهرچاله خواوي، ددښمنانو له خواوي، اوکه ددوستۍ ترپردې لاندې وي، موږهيچاته ددې حق نه ورکوو چې زموږ په کورنيو چاروکي مداخلت وکړي . ددوستانو له تأييد اوملاتړ نه يې ممنون يو، خوددي معنې دانه ده چې هغوي ته به موقع ورکوو چې زموږ په کورنيو چاروکي مداخلت وکړي اودخپلې خوښې خبرې پرموږباندي تحميل کړي .

ورونو ! دحزب اسلامي پرخلاف داتبليغات پدې ورځوکي روان دي . له مخکي نه هم داتبليغات روان وو،

حزب اسلامي خپل استقلال ساتلي اوان شاءالله ترآخره به پرخپل اصولي دريځ ټينګاركوي

خواوس لهجه تشديد شوي چې ګني حزب اسلامي دپاکستان له يوځ سره خاص تعلقات لري اويه همدې وجه په جنګ باندي ترکيز کوي، اودجګړې له لارې د مسئلې حل غواړي . اجازه راکړي چې دحزب دځينو هغوموافقو په هکله څه ووايم چې ددغو دروغجنو تبليغاتوماهيت څرګندوي .

تاسوته به په يادوي چې څوکاله دمخه زه دمجاهدينو ديوه هيأت په رأس کي دملل متحد دعمومي اسامبلي په يوه جلسي کي دګډون لپاره نيويارك ته تللي وم . دپاکستان حکومت اويه هغه وخت کي مرحوم ضياء الحق دامريکا له حکومت سره داتوافق کړي و، چې دمجاهدينو هيأت به راځي اوله ريګن سره به خامخاملاقات کوي . خوماددي ملاقات نه ډډه وکړه ، پداسې حال کي چې ټولو تنظيمونو پلاستنا لويو او ډرو پدي خبره اصرارکاوه چې زه بايد دريګن سره ووينم . ضياء الحق مرحوم پخپله په باربارله ماڼه وغوښتل چې همداکاروکړم . دپاکستان سفيريه ملګرومللتو کي (ددوي دائمي نماينده په ملل متحدکي) ودسعودي سفير زمادهوټل اطاق ته په باربارراغلي اوله ماڅه يې همدا غوښتنه کړې چې زه بايد له ريګن سره کتنه وکړم . خوما ډډه کړې اويه پای کې ماورته ويلي چې که ددي نه پس مو زيات اصراروکړ . زه به دانن نيويارك پريږدم اودابه نيويارك ته زما وروستي سفروي، زه له ريګن سره خبرواترو ته تيارنه يم ، زه نه غواړم چې له دنيا سره داتصورراپيداشي چې امريکا زموږ دجنګ اوقضيې وصي ده ، اوهغه کولاي شي چې دافغان اولس دقيم اونماينده په حيث له روسانو سره مذاکرات وکړي .

تاسوته به په يادوي چې دپاکستان حکومت دژنيو دمذاکراتو تأييد کاوه اوعملا يې په هغه کي برخه اخيستي وه اوله موږنه يې غوښتل چې دامذاکرات تأييد کړو اوله هغه نه ملاتړوکړو. خو موږ ورسره مخالفت وکړ . اوموويل چې ددي لارې نه دافغانستان مسئله حل کيداي نه شي .

دادروسي پوځونو دوتلو له پاره صرف يوپوښش کارول دي . پدي مذاکراتوکي دافغان اولس نه هيڅوك نماينده ګي نه کوي . موږ ددي مذاکراتو نه تأييد کوو اونه ددي مذاکراتو په نتيجه کي چې په کومو موضوعاتو توافق کيږي دهغه په نسبت التزام لرو . موږ ترپايه پورې د هغو مخالفت وکړ . پاکستان ، امريکا ټولو ملکونو غوښتل چې کله روسي پوځونه وځي دوتلوپه دوران کي ورباندي بريدونه ونه شي خو موږپه داګه اعلان وکړ چې زموږ له ملك نه ووروستي روسي پوځ نه وي وتلي ترهغه پورې به زموږ حملې وړاندې جاري وي ترڅو ترې ته ونيبو چې روسان دجنګ په نتيجه کي وتلي اوددي معاهدې په نتيجه کي وتلي نه دي .

دشپږومياشتونو له پاره مؤقت حکومت جوړشو چې پدې مودې کي به انتخابات کيږي اويه يوه مياشت کي به داخل ته ليږدول کيږي . خوپه هغو وعدو وفاونشوه اوموږ له حکومت نه ووتلو پاکستان دهمدې حکومت ملاتړکاوه اوله هغه سره يې مرسته کوله په الحاح سره يې له موږ نه غوښتل چې دې حکومت ته

منلوته تيارنه يو . دټول اصرار سره سره موږ دي ته تيارنه شو چې دې حکومت ته بيرته ورداخل شو .

حتي آخله ورځ چې له دې خبرې نه خوورځې نه تيريږي له ماڼه ځينوباصلاحيته اوعاليرتبه پاکستاني مسئولو کسانو په يوه ګډه جلسه کي په اصرار سره ددې غوښتنه وکړه چې حزب اسلامي دې بيرته دې مؤقت حکومت ته راشي مسئله په همدې ترتيب حل کيدلاي شي .

ځينوکسانوته هم همداوظيفه ورکړشوي وه چې همداخبره به کوي . حتي هغوکسانوته چې هميشه به يې په خپلو خبروکې ددې حکومت مخالفت کاوه . چې بل هيچايې هومره مخالفت ندې کړي . همغو کسانوته وظيفه ورکړاي شوي وه وظيفه ورکړاي شوي وه چې داخبره به کوي چې بس نورټول پدې باندي سره صلاح شوي له حزب اسلامي نه هم موږدا غوښتنه کوو، چې راشي اويدې کي دې شامل شي بس مسئله حل ده ، خوماورته ويلي چې زه متأسف يم، حزب اسلامي دې حکومت ته بيرته شامليدوته تيارنه دي، اوهلته مې ټوکه هم وکړه ماويل چې داسې ونه شي چې پرماباندي د" شورت نادزي " کانه ونشي . مخکي هغه له

استعفا نه وروسته بيرته وزيرخارجه شو خودادي شل ورځې وروسته ګورباچوف ، هغه لويه امپراتوري اوحکومت اووزارت خارجه ټول ختم شول اوپر وزارت خارجه باندي يې هم قبضه وشوه . ماويل چې پرماباندي هم همداکانه ونه شي، چې غواړي همغه حکومت چې عملا ختم دي، بياراولي . پاکستان تراوسه پوري هم له دې سره دلچسپي لري چې په هرصورت چې کيږي هغه مړحکومت بيرته راژوندي کړي اوحزب اسلامي هم په همدې حکومت کي برخه واخلي .

ماورته وويل چې زه معذرت غواړم . دي ته تيارنه يم اودا حکومت زه ديوې شيبي لپاره هم نه منم .

موږتل پخپل اصولي موقف باندي ټينګارکړې . دتهران مذاکرات چې پخپله پاکستان او ګڼ شمير تنظيمونو هم پکي برخه اخيستې ، له موږ نه هم غوښتنه شوې چې پدي مذاکراتوکي شرکت وکړو. ولي موږپدې مذاکراتوکي له ګډون کولونه ډډه کړې . وجه يې هم څرګنده ده . موږ دايران پرسياست اعتراضات لرو. له دې نه هم مطمئن نه يوچې ايران دي ته تيارشوي چې دافغانستان دقضيې دحل په جهت کي څه مثبت رول اداکړي .

ددغه تشويش او عدم اطمينان په وجه موږپه هغه مذاکراتو کي ګډون ونکړ، په هغې کي مو دپاکستان داصرار سره سره برخه اخيستې نه ده ، دماسکو مذاکرات يې بل مثال دي . پاکستان غوښتل چې

موږپدي مذاکراتوکي ګډون وکړو. حتي ويل يې چې که ستاسو لومړي درجه او دوهمه درجه مسئولين نشي تلاي، هسې يو نماينده وليږي ، که په هيأت کي دغړي په توګه ګډون ونکړي، دناظراودسامع په حيث برخه واخلي، موږويل چې موږ پدې مذاکراتوباندي څه اصولي ملاحظات لرو، دمذاکراتو دځاي په هکله ملاحظات لرو، داچې ماسکو دوه هيأته رابللي ، يوله پاکستان نه ، بل له تهران نه اودمجاهدينو ترمنځ داختلافاتو درامنځ ته کولو کوشش کوي، داچې دمجاهدينو ترمنځ اجندا مشخصه نه وه ، اوګڼ شمير نورملاحظات موجود وو ، پدي وجه موږد ماسکوپه مذاکراتوکي برخې اخيستوته تيارنه يو، موږګډون ونکړ ، که څه هم اصولا موږدماسکواومجاهدينو ترمنځ مذاکراتو سره موافق وو اوداپه بارباربارشوي ، په طائف کي ، په اسلام آباد ، پيښوراوګڼ شميرنوروځايونوکي که دامذاکرات عملا ترسره شوي ، ولي ددغومذاکراتوپه دي دوراوهغه هم په ماسکو کي موږدملاحظاتو ددرلودلو له امله ګډون ونکړ .

دماسکو دمذاکراتو په نتيجه کي دمجاهدينو طرف داتعهد کړي و چې دجګړې ترلومړي ليکي دمخه به خامخا دروس اسرا يوه ډلګۍ خوشې کوي .

پاکستان هم غوښتل چې داکاردې وشي ، په ځانګړي توګه چې پاکستان دمجاهدينو ددې وعدې په اساس دهغوي سره څه تعهدات هم کړي وو، چې که دستاسو وقدراشي نوخامخابه ځيني جنګي اسراء له ځان سره بيايي ، پدې خاطر پاکستان ټينګار کاوه چې خامخا ځيني جنګي اسرا خوشې شي ... خو موږورته ويل چې دجنګي اسراو مسئله يوه ضمني اوثانوي مسئله ده .

لومړي بايد دجګړې دختمولو اوپای ته رسولو په جهت کي کاروشي . بايد په افغانستان کي جګړه ختمه شي . په روسي وسلو زموږ دولس وژلو سلسله پای ته ورسيږي ، دنجيب حکومت دې لرې شي

(نوربيا)

يلتسين اداره راديوتلويزيون شوروي سابق راملي اعلان كرد

مسکو - ٦ جدي :
بوريس يلتسين رئيس جمهوري فدراسيون روسيه امروزکميته دولتي مسئول اداره راديو وتلويزيون شوروي سابق راملي اعلان کرد .
مديريت شرکت جديد راديو وتلويزيون به عهده مديرمسئول سابق مجله خبارمسکوگذاشته شده است .
قراراست مديريت جديد، فعاليت هاي سياسي، اقتصادي وفرهنګي جمهوري هاي عضو اتحاد شوروي سابق راکه به عضويت جامعه مشترك المنافع دولت هاي مستقل درآمده اند پوشش دهد .

دسرمقالي پاتي

شي، روسانودخبرولپاره هغه ځوك خپل استاځي کړي، چې لاسونه يې اوس هم دافغانانو په وينو سره دي ، او ليرې نده ، چې دامذاکرات هم دملګرو ملتونو دسياسي حل غونډې دامريکايانو چلوټه ثابته شي .
خوموږبايدډدي ته څيراوسو، چې دنجيب ګوډاګي رژيم نوردمقاومت توان نه لري، اودايرغلوته چې اوس پرکابل ، جلال آباد، پروان اونورو ولايتونو شوي، چې دبالاحصار دډيپو په ګډون د الوتکو اوګڼو پوځي زياتونو لامل ګرځيدلي، که همداسې په پرله پسې ډول تکرارشي، نوزموږ يقين دي ، چې ډير زربه پرکابل اسلامي بيرغ ورپيږي ، دنړيوال کفرله دي سياسي چلوټو اومنافقت نه بايد دانتيجه واخلو، چې زموږمزل رالنډ اوجهاد به يې ډير زرخپل وروستني هدف ته ورسوي ، نه د بنګلاك دخبرو انتظار. زموږ سترې قربانۍ داسلامي نړۍ پراخو دوښتابه دوراتګو طلوع ډيره چټکه کړي، اودادي ګورو، چې دالجزايرداسلامي خوځښت حيرانوونکي بري ګرده بنګلاکي نړۍ لړزولي ده ، اولکه دافغانستان داسلامي تحريك غونډي هغه هم پخپلې داسي منافقانه پيشګوئي ټکوي، چې ګونډي دايران دانقلاب غونډي يوه قضايه رامنځ ته کړي او ... خوپه هرصورت دالجزاير مسلمان ملت دخپل قيادت لپاره اسلام انتخاب کړ، اوله ۱۹٦۲ کال راهيسې دواکمنو ملي ګراپانو فشار، جبراو تشددونشو کولي . چې اسلامي تحريك اوهم مسلمان ولس له خپلې پريکړي راوګرځوي . چې داپه حقيقت کي داسلامي امت له خوادنوي نړيوال نظام دچيلنج هغه تعاقب دي، چې بنسټ يې دمجاهدو افغانانو له خوا ايښودل شوي دي . دنړۍ له ګوټ ګوټ نه دتکبيرونو دانګازو راپورته کېدل موږ نورهم پخپل جهاد اوقربانيو ډاډمن کوي، اوانشاء الله دمجاهد مشرتابه داپيشګويي چې روس پرپنځلسو ټوټو وويشل شو، اوامريکا به دوه پنځوس برخې کيږي، دقرآنو اوذرايعو له مطالعي اودمومنانه فراست په کچ تلل شوي معياردي، پرنورو سربېره دامريکا ډيري مهذبي اومتمدني سيمي "نيويارك " نه که وکتل شي، چې پس له مابنامه يکې يواځې لاروي يې پېښي اوماجرانشي راستيدلي ، نوداحقيقت ډاګيزکوي ، چې راتلونکي داسلام دی ، اومسلمانان بايد دنړيوال مشرتابه لپاره متي رابډوهي، او بيا دافغاني مجاهدينو ترمنځ يواځې خپله آزادي نه بلکې دنړۍ دېرخليك ډيره پرته ده ، نوبايد دجهاد له سترو مورچلونو ته دخبرواترو دمېز قربانۍ نشي ، داخدايي (ج) ژمنه ده ، چې دځمکي خلافت خپلوتکبيرګټونکو ورکوي .

نبوي ارشاد

له حضرت ابوسعيد رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل :
پە مؤمن كي دوه شيان نه پيداكيږي
يوبخل اوبل بدخلقي

اخبارجهان

رئيس جمهور نخجوان ازايران درخواست كمك نمود

تهران ۸ جدي :
راديو ايران ميگويد : رهبرجمهوري خودمختارنخجوان آذربايجان براي مقابلەباmشكلات اقتصادي ازايران كمك درخواست نموده است.
اين راديوگفت : درخواست نخجوان را آقاي بيژن هرزلي روف نخست وزير نخجوان درتهران بامديرعامل هلال احمر ايران درميان نهاده است .
تلويزيون روسيه امروز اوضاع اقتصادي نخجوان را وخيم توصيف كرد جمهوري نخجوان كه بوسيله ارمنستان ازبقيه خاك آذربايجان جداشده است .
به كمك هاي غذايي ايران وتركيه متكي است. تلويزيون روسيه به نقل از رئيس پارلمان نخجوان گفت رفت وآمد قطارهاي مسافري بين نخجوان وباكو شروع خواهدشد.

دكمبوديا مخالف قوماندانان په پنوم پن كي غونډه كوي .

په كمبودياكي په جنگ كي گډو پخوانيو ولو عالي رتبه قوماندانان دلومړي ځل لپاره دكمبوديا په پايتخت پنوم پن كي سره راغونډشوي دي دوي په جگړوكي په پوځي توليوكي برخه اخستده .
دملگرو ملتونو ماموريتو داغونډه دامن په پروسه كي يومهم گام بللي دي.

جمهوري هاي تركمنستان و ازبكستان روي تبادله اجناس به توافق رسيدند

عشق آباد - ۸ جدي .
جمهوري تركمنستان وجمهوري ازبكستان در زمينه تبادله اجناس براساس نرخ آزاد به توافق رسيدند.
اين توافق در ديدار رؤساي دوجمهوري بدست آمد . بگزارش تلويزيون عشق آباد ، رئيس جمهور تركمنستان درين ديدار به تاكيد برگسترش روابط تجارتي بين دوكشور ، خواستارحمايت مصرف كنندگان ازمبادله كالا بانرخ هاي جديد شد . اين منبع همچنين گزارش داده پارلمان عالي تركمنستان عضويت اين جمهوري رادرجامعه مشترك المنافع كشورهاي مستقل تائيد كرد.

د منځني آسيا پتي زيرمي غربي كمپنيو ته دپټي خزاني حيثيت لري .

نيويارك تايمز.
امريكايي كمپنيو دپخواني شوروي په جمهوريتونوكي دپانگي اچوني لپاره پراخه هلي ځلي پيل كړي دي.
نيويارك تايمز په يوه رپوټ كي دپخواني شوروي جمهوريتونوته دامريكا يي كمپنيو دتوجه په باب وليكل چي ددغوجمهوريتونو پټي زيرمي دلويديزوكمپنيو لپاره دنرخ لپاره ديوي قيمتي خزاني حيثيت لري.
دي ورځپاڼي زياته كړي امريكا دشوروي دآسيا يي جمهوريتونو څخه دموادو دتړلاسه كولوپه لټه كي ده .
ديوه امريكايي شركت ديوه مديرپه قول په دي سيمه كي دځمكي لاندي دتيلو يو اوقيانوس پروت دي چي روسانو ته له هغه څخه گټه اخستنه دتخنيكي ستونزوله امله مشكله ده .

اولين انتخابات آزاد درجمهوري ازبكستان آغازگرديد.

۸ جدي
رأي دهندگان دراولين انتخابات مستقيم رئيس جمهور در جمهوري ازبكستان شوروي سهم ميگيرند .
مراجعه به آراي كه قبلا صورت گرفته است نشان ميدهد كه اسلام كريموف رئيس جمهور موجود رقيب خودمحمد صالح كانديد حزب مخالف حزب دموكراتيك راشكست خواهد داد.

پوليس چين پنج نفر را دستگيرنمود .

پيكنگ - ۸ جدي
مقامات چيني حد اقل پنج نفر راتوقيف نموده اند تامعلوم كنند كه چي كسي مسئول تشكيل مراسم تشيع جنازه يكي از ناراضيان بنام وين جي در پيكنگ بوده است.
پوليس ازآنهادر مورداكليل گلي معلومات خواست كه براي سوگواري بزرگ فعاليت گراني كه درسال ۱۹۸۹ كشته شده بودند ، گذاشته شده بود. وين جي اخيرا دراثر مرض سرطان درگذشت .
ازجانب ديگرمحاكمه يك خبرنگار ناراض چيني بنام فيوشي كا ك به الزام تبليغات ضدانقلابي وتحريف ، درپيكنگ شروع شده است.

جنگ در يوگوسلاويا شدت بي سابقه بخودگرفته است.

كروورشي ۸ جدي
اردوي يوگوسلاويا تحت قيادت صربي ها حملات خودرابر شهركار لوبيك در كروورشي دوباره شروع كرده اند.
مامورين كروورشي ميگويندكه ازچندين بارك نظامي قواي فدرال واقع درنزديكي اين شهرگلوله باري توپ صورت گرفته است . كارلوبيك ازيك هفته به اين طرف تحت حمله قراردارد . طبق گزارش اردوي يوگوسلاويا روزشنبه راكت هاي زمين به زمين را بالاي شهر زاگريب انداخت نمود. گفته ميشود كه اين اولين باريست اين نوع سلاح درجنگ شش ماهه يوگوسلاويا استعمال شده است.

شهادت

دجدي دشپږمي پوځي يرغل مجاهدينودهيوادپه بيلابيلوسيموكي ددښمن پرپوځي ځالوباندي په درندو ډزوسره وغانده

دجدي ٦ :
دجدي دشپږمي يرغل چي زموږ په انقلابي تاريخ كي يوتورداغ دي دهركال په اوږدوكي پردښمن باندي دمجاهدينو په ځپونكو گوزارونوسره پدركه كيږي روان كال هم دتيروكلونو په شان مجاهدينو دهيواد په بيلابيلوولايتونوكي دتوموري ورځي دغندني په مناسبت دكابل په گوداگي حكومت باندي ځپونكي ترتيبات نيولي وو اوپه كمونست رژيم ني داورلمبي بلي كړي دي په هغو رپوټونو كي چي دافغانستان له بيلابيلو ولايتونو څخه ترلاسه شوي ويل كيږي .
مجاهدين دروان كال دجدي په شپږمه نېټه چي پرافغانستان باندي دروسانو دمستقيم يرغل سره سمون خوري دكابل بالاحصار، راديو استيشن ، دقرغي فرقه ، دداراالامان دقواوو كندك ، دپلچرخي دزرهدارقواومركزونه ، دبگرام هوائي ډگر، دننگرهار هوائي ډگر، دسروبي ولسوالي ، دپكتياولايت مركز گرديز ، جلال اباد اونور گڼ شمير كمونستي مركزونه دخپلو درندو اوسپكو وسلو تربريد لاندي نيولي اودښمنوقواووته په لاندي ډول تاوانونه اړولي دي .
دپلچرخي د۱۵ قوايه مركزكي ۱٤ كسه كمونستان مړه اوزيات نظامي بارگونه نړيدلي دي دبگرام په هوائي ډگركي ۲ زغروال ټانكونه له منځه تللي او ٥ پوځي لاري ويجاړي شوي او ۷ كسه كمونستان وژل شوي دي دجلال آباد په ښاركي ۱٥ كسه كمونستان مړه او ۲٦ كسه ټپيان شوي دكوه صافي په علاقداري كي يوه پوسته فتحه شوي اودوه ټانكونه سره له يوي نظامي لاري ويجاړشوي دي .
خبرځايونه ليكي چي پدي بريالبوبريدونوكي ۷ كسه مجاهدين ټپيان اودري كسه نوردشهادت لوړمقام ته رسيدلي .
روح يې دي ښاد اوياديې دي همېشه وي

دصوابي اوفضل په كمپونوكي دمرغومي شپږمه فاجعه وغندل شوه

صوابي -. دمرغومي شپږمه :
دروان كال دمرغومي دمياشتي په شپږمه ورځ دصوابي اوفضل كمپونو مهاجرينو دبركي كيمپ په ٦ نمبر مېډل سكول كي دروسانو ديرغل دغندني په مناسبت يوه درنده غونډه وكړه .
پدي غونډه كي چي په زر گونو مهاجرينو ، عالمانو ، مجاهدينو، استادانو، دكميشنري اوديني مدرسو گڼ شمير زده كونكو سربېره دحزب اسلامي دتخطيط تنظيم دكميټي مرستيال هم برخه درلوده دقرآن عظيم له تلاوت دڅو مباركو اياتونو په تلاوت چي دقاري دوست محمد لخوا ولوستل شول پيل شوه وروسته تعليمي حلقاتو عمومي ناظم مولوي حبيب الله دتوموري ورځي دغندني په مناسبت عالمانه وينا وكړه : ويې ويل تاريخ شاهددي چي دهرفرعون او نمرود دتكبريت مومنانومات كړي دشلمي پيړي فرعونان روسانو، داسي ماتي وخوړه چي افغانستان خوبريده چي گڼ شمير نورو محكومو ملكو هم تري آزادي ترلاسه كړه .

وروسته دعبدالله بن عباس دمدرسي مدير مولوي محمد شريف " رحماني " دخپلي عالمانه وينا په يوه برخه كي وويل نن ورځ دروسانو دتيري اوله پلي خوا دروسانو درسواني ورځ ده هغه شوروي اتحاد چي تريرونه ني دټول جهان دصوبه :اري ذمه واري كوله نن دمظلومو افغانانو دريښتينو مبارزو په لركي ټوټي ټوټي شو داسي سره بيل شول چي بيائي په ني هيڅوك سره راغونډ نشي كړاي .
دغونډي په وروستي برخه كي دبركي ٦ نمبركيمپ دمېډل سكول سرمعلم نعمت الله قطعنامه ولوسته غونډه دمولوي صاحب حبيب الله په اختتاميه دعا سره پاي ته ورسيده دغونډي نه وروسته برخوالو ديوه غټ جلوس په ترڅ كي دنجيب ناولي مجسمي ته اوروړته اودخاوروسره ئي خاوري كړې.

۳۲ تنه عسكرپه سرپل كي له خپلو وسلو سره مجاهدينوته تسليم شول

البنيان :
دجوزجان ولايت څخه دخالدبن وليد دقرارگاه آمرقاضي عبدالحي پخپل يومخابروي پيغام كي چي تيره شپه يې پيښور ته مخابره كړي ويلي چي مجاهدينو دجدي په شپږمه چي دروسانو ديرغل له ديارلسمي كليزي سره برابره وه دسرپل په امنيتي كمربند باندي ديوي هراړخيزي حملي په ترڅ كي يوتن عسكروژلي او نور يې ټپيان كړي دي په خبركي زياته شوي چي ۳۲ تنه عسكرد خپلو سپكو وسلو، دوه مېله پيكاماشيندار اوڅو صندوقه مرميو اولاسي بمونو سره مجاهدينوته تسليم شويدي .
ريوټ زياتوي چي پدي نښته كي درتنه مجاهدين شهيدان اوځلورتنه نور ټپيان شويدي .

دپاكستان صدراعظم نوازشريف غوښتنه كوي چي له هندسره ستونزي حل كړي

دپاكستان صدراعظم نوازشريف له هندسره دخبروكولوپه باب ويلي دي چي بايد ددوارو هيوادونو ترمينځ تولي مسئلي دخبرو له لاري هواري شي نوازشريف له يوي هندي ورځپاڼي سره په مركه كي وويل چي دكشميركشاله يوه مهمه كشاله ده .
ده وويل چي خبري دوزيرانو په سطحه يا په غير سركاري سطحه هم كيداي شي .
دنوازشريف د پيشنهادپه باب تراوسه هند هيڅ عكس العمل نه دي ښودلي .
######

سفارت سويس درتهران بسته شد

تهران - ۸ جدي :
به تعقيب ضبط پاسپورت يك ديپلومات سويسي در تهران ، سويس سفارت خودرا درايران مسدود كرده است
.
اين اقدام يك مشاجره ديپلوماتيك بين دوكشور را كه درهفته گذشته شروع شد عميق ترساخته است ، روزدوشنبه مقامات سويسي يك تبعه ايراني راكه ازطرف فرانسه به ارتباط قتل شاهپوربختيار صدراعظم سابق ايران درپاريس تحت تعقيب بود توقيف نمودند . ايران عليه توقيف مظنون ايراني كه كوشش فرانسه براي استرداد وي ازجانب سويس به مقامات فرانسوي است احتجاج نمود . روزيكشنبه مقامات ايراني
درتهران پاسپورت يك ديپلومات سويسي را ضبط نموده ومانع داخل شدن وي درطياره گرديدند كه جانب سويس پرواز ميكرد .
مقامات سويسي ميگويند روابط ديپلوماتيك خودرا باايران حفظ مي نمايد اماسفارت شان بسته شده است .

خبر ورزشي

سومين تورنمنت يادگاري رحمن بابا كه تحت نظر فدراسيون فتبال پشاور چندي قبل به اشتراك چهارتيم مهاجرين افغاني ودوازده تيم منتخبه فتبال پشاوردرافغان فتبال گراوند شاهي باغ صورت گرفته بود به پايان رسيد.
بعدازمسابقات جالب وتماشايي كه درجريان تورنمنت بين تيمها صورت گرفت بالاخره تيم فتبال مهاجرين افغاني " مجاهد A" توانست جام پيروزي مسابقات رابدست بيآورد . جام قهرماني را دپټي كمشنرمهاجرين افغان به كپتان تيم مجاهد داد.

اعلان

يوسړي چي خپل ځان محمداكبر اودپكتيا ولايت دزرمت ولسوالي معرفي كوي اود ٥٥ كلونو په شاوخواكي عمرلري دانقلاب چوك سره تيرډي چي ديوه بيري په موټركي سپورو، دراكوزيدو په حالت كي په يوه ترافيكي حادثه كي ټپي شوي تومورړي دځمكتو تاني دپوليسو لخوا روغتون ته يوول شوي او له تداوي وروسته چي څه عصبي تكليف هم لري په همدي تانه كي پروت دي كه دهرچاخپلوان وي اويا يې پيژني دشهادت ورځپاڼي داداري يادځمكتو تاني پوليسو سره دي تماس ونيسي .

دبي دركي اعلان

غلام سخي دغلام نبي زوي دكابل ولايت ډيغمان ولسوالي اوسيدونكي چي تقريبا ٦٥ كاله عمرلري دعصبي ناروغي له امله دمانسهري دشيخ آبادكيمپ نه د ۱۲ ورځوراپديخوا لادركه شوي كه هرچاته معلوم وي پدي پته دي خبرووكړي .
پيښور - ورسك نمبر ۲ غنم حضرت عمرفاروق ، عبدالمنان
پاپيښور - حاجي كيمپ ، دامام اعظم (رح) مدرسي عبدالفريد نومي انضباط

شهادت
بيانگرعقايد وآرمانهاي حزب اسلامي افغانستان
مؤسس : الجنير"حكمتيار"
صاحب امتياز : حزب اسلامي افغانستان
ناشر :رياستارشادوفرهنگ
سال تاسيس : ۱۳۵۷ هجري شمسي
تحت نظرهيئت تحرير
تلفون : ٦۳۷۸۹- ۳۰۲۲٤ پشاور
پوست بكس (۱٤٦٥) يونيورستي تاون پشاور

درحمله راكتي دولت ملحد برمراكز مجاهدين درمنطقه تهزين سروبي به كسي آسيب نرسيد

سروبي -۲٤ قوس - مديريت ارتباط خارجه نظامي :
سپاهيان دلير اسلام ازچكري راپور داده اند كه قواي مزدور رژيم ملحد به بتاريخ ۲٤ قوس مراكز مجاهدين درمنطقه تهزين را هدف حملات وحشيانه راكتي خود قرارداد اما لله الحمد مجاهدين هيچگونه آسيب نرسيده است

روسيه عنعنات قبل ازتسلط كمونيزم رااحياءمي كند

يلتسن

منسك - ۸ جدي :
ديدار جديد سران جامعه مشترك المنافع دول مستقل برموافقات نظامي بين يازده جمهوريت سابق شوروي متمركز خواهدشد .
آژانس خبرگزاري تاس ازيلتسين نقل قول مي كند كه رهبران بايد به ساختمان قواي مسلح تصميم بگيرند . رهبر روسيه ميگويد : اكثريت رهبران ازقوماندانان مشترك قواي نظامي طرفداري مينمايند . رهبرروسيه ابرازنظرنمودكه جلسه "منسك " برايجاد يك روش مشترك دركنترول واحد ذخاير روسيه ازتجهيزات شوروي ، منجرگردد تاس ازيلتسين نقل قول مي كندكه روسيه درنظردارد يك گاردملي شامل چهل هزار نفر تشكيل گردد. ازوي نقل شده كه روسيه عنعنات سابقه عسكري به شمول يونيفورم هاي عنعنوي راكه قبل از دوره كمونستي استعمال مي شد دوباره احيا خواهدكرد . وي اين مطالب را طي مراسم اعطا ي نشان به يكعده ازروشنفكران بخاطر فعاليت هاي شان درسال گذشته اعلام داشت .

راپورازتشكيلات حوزه هاي انتخاباتي محصلين

ناظميت تنظيم اسلامي محصلان افغانستان جهت منظم شدن هرچه بيشتر صفوف محصلين به اساس انتخابات درحوزه هاي كمپ جلوزه ، حوزه عبدالله بن عباس واقع شاه‌ندوحوزه جديد التشكيل دركالج جهان زيب واقع سوات برادران ذيل رادر راس امور انتخاب نمودند .
درحوزه جامعه امام محمدشيباني واقع كمپ جلوزو :
۱ - برادر عبدالرحمن جواد بحيث ناظم
۲ - برادرمحمدطاهر بحيث معاون
۳ - برادر عبدالحكيم بحيث مسئول ارتباط
٤ - جمال عبدالناصر بحيث مسئول فرهنگي
٥ - محمدآصف سليمبار بحيث مسئول تدوير اجتماعات
٦ - محمدعمر عضوشورا
درحوزه عبدالله ابن عباس (رض) واقع شاه‌ندند .
۱ - برادرعبدالحنان بحيث ناظم
۲ - برادرمحب الله بحيث معاون
۳ - برادر مجيب الرحمن بحيث مسئول ارتباط
٤ - برادرلعل محمد بحيث مسئول فرهنگي
٥ - برادر جهان گل بحيث مسئول تدوير اجتماعات
درحوزه جديد التشكيل كالج جهان زيب واقع سوات :
۱ - برادر سميع الله به حيث ناظم
۲ - برادر رحمت شاه بحيث معاون
۳ - برادر خليل الرحمن بحيث مسئول ارتباط
٤ - برادر محمدابراهيم مسئول فرهنگي
٥ - برادر رحمت الله مسئول تدويراجتماعات

دصهيونستي رژيم لخوايوتن فلسطيني مبارزپه شهادت ورسيد

پرون داردن سيند په لويديزه غاړه كي دصهيونست رژيم لخواكونو يوتن فلسطيني مبارز شهيدكړ درارسيدلو رپوټونوله مخي داردن سيندپه لويديز غاړه كي پرون دصهيونست رژيم دځواكونو اومسلمانانو ترمينځ نښتي وشوي چي په هغو كي دفلسطين مسلمانانو دصهيونست رژيم ځواكونه په ډبرو اواورېلونكوبوتلونو ويشتل پدي بريدكي يوتن فلسطيني مبارز دصهيونستانو په ډزو شهيد اودري تنه نورټپيان شول .

ورك شوي دي

ددسمبر دمياشتي په ۲۷ نيټه دجمعي په ورځ له غرمي څخه وروسته دنوتيه مسكين آباد پيښور نه ذكرياملاتړ زوي اباسين له كوره ورك شوي دي .
داباسين پيژندگلوي داده :
عمرشپږكاله ، رنگ غنم رنگه ، آسماني رنگه جامي اوخړواسكټ يې په غاړه دي
.
په پښتو يي سره بوټان اوپه سر سرتوردي . كه چاته داباسين په باب څه معلومات وي . تومهرباني دي وكړي دنوتيي مسكين آباد جومات اويادشهادت اداري اويادي دغوتيلفونونو (٤٤٦۳٦) (٦۳۷۸۹) ته خبرووكړي .

تشكيل شوري مشورتي در دوره انتقالي به نسبت عدم نمايندگي از كافه ملت و ضياع وقت زياد، غيرعملي است